






محب الرحمن « خطيبي »

د نشر نیټه : ۱۹ جون ۲۰۱۴ میلادی

# علـــم او پوهنه !!!

غیرت په ډزو نشــــــی اوس د عقل زمانه ده
عقل چی کمزور شی نوغیرت یی بهــــــانه ده

قلم سره دوستی کړه چی د ښمن لتا ګواښ کړی
نفرت ستــــــــا له قلمه ستا دښمن ته ترانه ده

پیری د کمپیوټر ته بی سواده سر ببر ګـــرځی
دښمن ته ستا دا ښه ، خمــــــــاری ته میخانه ده

کره خپله یی ربیه نور د چا محتاجــــی مه کوه
دښمن له لاس خوراک لکه دزهر پیمـــــانه ده

هیواد کی چی دی عقل هلته غم ، بربادی نشته
عقل کله ورک شی نو د غم لوی نښـــــانه ده

مین که په توپک یی نو په بل لاس قلم واخــله
دفاع ده ننک ناموس حق د هرچـــا مسولانه ده

اوس لوی شوی درس تعلیم ته دی پام ســــــاته
قلم ، کتاب ، لیـــــــکنه دادی لویه خزانه ده

دبل چـــــا په توپک ته ولی دومره ډیر نازیږی
خپل په لاس یی جوړکه چی خوښی یی جانانه ده

***

محب الرحمن « خطیبي »

۲۰۱۳

www.said-afghani.org - بارگشت به صفحه اصلی